پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۱/۲۳

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا
# او له دې پلوه په سیمه کې دافغانستان دریځ

*«...اوس افغانستان دمنځنی آسیا او جنوبی اسیا یوه مهمه برخه گرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترگی نشی پټولای... دوکتورمحمد اشرف غنی»*

خلورمه برخه

*د لاجوردو لار، د افغانستان لپاره په سیمه ییز تجارتی مسیر کی د ورکډیدو دیر بنه چانس*

## د منطقوي اقتصاد حقوقی (قانوني) اړخ

ملی حاکمیتونه دخپل هیواد دننه دخپلو ملکي تقسیماتو له مخي اقتصادی منطقي د یوشمیر اړتیاوو، مشابهتونو، د لگښتونو دکمښت، اقلیمی توپیرونو یاورته والی، دخامو توکو دپیدایښت اونورو دلایلو له مخي ټاکي. مخکي تر ۱۳۷۱ ل. کال څخه افغانستان صنعتی فعالیتونه په اوو منطقو کي په نښه کړي وو چي هرې منطقي یومرکز درلود. د دغو منطقو د استملاک په برخه کي ستونزه نه وه، د ځمکي هر استعمال (لکه زراعتی استعمال، صنعتی استعمال، رهایشی، تفریحی او خدماتی او نور) پکي رعایت شوی و. موږ دا حق نلرو چي زراعتی استعمال او شنه ساحه په تجارتی یا ترانسپورتی یا مسکونی ساحو بدلي کړو، بلکی د ځمکي د هر استعمال لپاره باید وړ او مناسب محلات و ټاکو. موږ پخوا ملی پارکونه هم په نښه کړي وو او توریستی سیمی هم ټاکل شوې وې.

له ملی پولو څخه بهر د دوو یا څوهیوادونو ترمنځ داقتصادی منطقي جوړول چي ددوی دحکومت څخه جلا دیوه سازمان په بنه فعالیت کوي، یوه قانوني کړنه ده چي دنړیوالو حقوقو سره سم جوړیدای شي. مونږ دلته دنظامی منطقوی سازمان او سیاسی منطقوی سازمان سره کار نه لرو. بلکی دبحث موضوع موصرف دمنطقوی اقتصاد دپرمختیا اومدیریت لپاره اقتصادی منطقوی سازمانونه دي چي ټاکلی هیوادونه پکي غړیتوب ترلاسه کوي او مشخصي جغرافیایی سیمي پورې اړه لري چي دوی خپل منځ کي یوډول منطقوی اقتصاد یا منطقوی اقتصادي اړیکی رامنځته کوي. دغه ډول منطقوی جوړښت دیوي اساسنامي اوتوافق شوی قرارداد له مخي جوړیږی او په هغه کي شامليدل اختیاري بڼه لري اویومنطقوی اقتصادی ساختار د حقوقی اهلیت لرونکی وي. خومعمولاً دیوه دولت په شان عمل نه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کوي. بلکې دخپلې اساسنامې مطابق مشخصو برخو کې يوبل سره همکاری او تعاملات پرمخ بيايی. هرغړی خپلو حقوقی،سياسی او مالي چاروکي استقلاليت لري . د دوي حقوقی سرچيني ددوی ترمنځ لاسليک شوی توافقنامه، اساسنامه، د اسنادو دوه اړخيز ياڅو اړخيز تړونونه او نړيواله قضايي رويه ده. دوی په شريکه ديپلوماتيک اساسات اواداب رعايتوي. يومنطقوی اقتصادی سازمان او تړون دمحصول اومالياتو، ګمرکی تعرفو، بيمه، شخصی خدمتونه او نور ټکي ډيرروښانه او په اسنادوکي درج کوي، حال داچي ديوه هيواد دننه داقتصادي منطقوجوړول ددې ډول ادابو اواسنادولپاره اړتيانه لري. بلکی دملی اقتصاد دپرمختيا دملی توليد او ودې اودسيمي دخلکو دهوساينې لپاره کار کوی اودسيمه ييزه اقتصادی سرچينو دښه تخصيص اودخلکوهوساينه يې هدف وي. داوسنيو نړيوالو واقعيتونو څخه ښکاري چې منطقوی اقتصادی مرستې اومنطقوی اقتصادی سازمانونه ديراختياپه حال کې دی او ددغه ډول متقابلو، دوستانه او مساويانه اړيکو په رامنځته کيدوسره د سيمو اقتصادی وده پوره ښه شوی ده او ددوی واکونه او فعاليتونه ممکن تردې هم زيات اوپراخه شي.

## د منطقوي اقتصاد دجوړيدو شاليد

منطقه يی اقصاد له هماغه پيل راهيسی داقتصادي فعاليتونو فضايي ويشني سره کار درلود او له ډيره وخته د فضايي بُعد او اقتصادی فعاليت ارتباط تر څيرني لاندې نيسي. داقتصاد تاريخ دهغو راز – راز هڅو ښوونه کوي چې په ښکاره ډول سره دفضايي موضوع دپه نبنه کولو لپاره ترسره شويدي.لکه دمقايسوي ارزښت او دنړيوالي سوداګري په تيوريو کي .

علاوه پردې، د فضايي اقتصادي تحليلونو سره يو شمير مرسته کوونکي لارې چارې کيدلای شي چې داون تونن "Von thunen" ويبر "Weber" ، پلاندر "Palunder" ،هاټ لينګ "Hotelling" ،پرې ډول "Predohl" ،کريسټالر "Chirstaller" ،لوسچ "Losch" او نورو په کارونو کې وموندل شي. همدوی ددغی څانګې نامتو پوهان وو چې د منطقوی اقتصادی تاريخ جوړوی.مګر تر دويمي نړيوالي جګړې وړاندي منطقه يی اقتصاد ديو مستقل نظام په بڼه راڅرګند شوی نه واو نه هم دپنځوسمي لسيزي ترنيمايي پورې دجغرافيايي موقعيت په ستونزو پورې داړونده مفاهيمو دمطالعې لپاره ديو منل شوي تحليلي چوکاټ په بڼه منځ ته راغلی و. د دوهمې نړيوالې جګړې دپای ته رسيدو له مهاله وروسته ،منطقه يی اقتصاد Regional Economics "او وروسته ښاري اقتصاد" Urban Economics دفضايي اقتصادي سيستمونو دجوړښت او تکامل په اړه دزياتو معلوماتو دلاس ته راوړلو په برخه کې خورا دپام وړ پرمختګونه وکړل.له ډيري مودې پخوا راهيسې هيوادونو دااړتيا احساس کړې وه چې ديوشمير مشترکو وجوهاتو، کډوالتياوو، دسرچينو سره شريک کولو اويوبل له مساعدو امکاناتو په استفادې ځانونه اقتصادي ودې ته ورسوی او دلويو اوکوچنيو اقتصادي منطقوپه جوړولو دمنابعو دضايع کيدومخه ونيسي. دغي مفکورې ديوې جغرافيايی فضا درامنځته کولو اړتيا پيښه کړه. کيدای شي دغه فضا يواځې دوچې پرسروی ويا هم کيدای شي اوبه او سمندرونه هم پکې شامل شي. دولتونو ته داثابته شوه چې په يوه منطقه کې دسياسی اونظامي همکاريو په پرتله اقتصادي همکاري ډيره آسانه اوګټوره ده. داقتصادي همکاري په فضا کې ګډيدل دومره پيچلی نه دي لکه له نورو هيوادونو سره چې په نظامي ياسياسی فضا کې ګډيدل دومره پيچلی اوستونزمن دی. خو که دغه فضا ديوه هيواد دسياسی قلمرو دننه وي نوبيا بيخی ستونزه نشته حال داچې دمنابعو،بشری ځواک او وسايلو څخه ښه کار اخيستل کيري او د ترانسپورت

لګښت ډیر کمیږي، نو ځکه هیوادونو دي ته ملا و تړله چی د خپلو قلمرونو دننه منطقوی اقتصاد په شان، په لویه کچه منطقوی اقتصاد جوړ کړی. دغه مفکوره د لومړي ځل لپاره له ۱۹۴۵ م. کال څخه وروسته عملي شوه. او اقتصاد پوهانو د اقتصادی فعالیتونو فضایي بُعد او د هغه په دننه کي اقتصادی فعالیت ( Spatial Dispersion and Coherence of Economic Activities) ته پاملرنه واړوله. او د فضایي بُعد مسّله یي د منطقوی اقتصاد په تیوري سره حل کړه. د همدې اړتیا له مخې د اقتصاد د منطقوی فعالیتونو د آسانه ترسره کولو لپاره د BENELUX اتحادیه جوړه شوه. وروسته د اروپايي مرستو سازمان Organization for European Cooperation په ۱۹۴۸ م. کال کی او بیا په ۱۹۵۲ د ډبرو د سکرو او پولادو د اقتصادی فعالیت سیمه یا European Cool and Steel Community جوړه شوه. وروسته په ۱۹۵۷ م. کال کي د شپږو هیوادونو په ګډون د اروپا اقتصادي ټولنه (European Economic Community) یا EEC جوړه شوه. چی وروسته یي پوره پراختیا وموندە چي نن د اروپايي اتحادیي European Union په نوم فعاله ده. تر دغه منطقوی جوړښت لاندي د کرنی، کب نیولو او ترانسپورت د پالیسیو په هکله پریکړی کیږی او خپل اقتصادی فعالیتونه په همغږی سره تنظیموي. اوس منطقوی اقتصاد لاندنیو پوښتنو ته ځواب وايي:

- ولي وګړي په یوه سیمه کی تجمع کوی، ښارونه جوړوی او عرضه او تقاضا رامنځته کوی او تجارتي فعالیتونه دی ډول ځایو کي متمرکز کیږي؟
- ولی اقتصادی فعالیتونه په یوه ټاکلی ځای کي وی؟
- منطقوی تحلیل یعنی څه؟
- د اقتصاد منطقوی کول، دمناقلاتو په لګښت څه اغیزه کوی؟
- یوه انحصاری تصدی او په منطقه کي څو رقابت کوونکی تصدی به دګټوله پلوه څه وضعیت ولری؟
- ولی باید تصدی ټاکلو ځایونو کي ځای پر ځای شي او دي ته ورته پوښتني.

اوسني وخت کي په حقیقت کي نړیوال نظام د نړی د ګڼو مسئلو لکه چاپیریال ساتنی، د بیوزلي له منځه وړل، مهاجرتونو، نړیوال امنیت او داسي نورو مسئلو په هکله د پریکړو واک لري او منطقوی جوړښتونه د سیمی په کچه په یوه ټاکلي فضایي بُعد کی د اقتصادي مسّلو په هکله د پریکړو واک لري.

د اقتصادي منطقو فعالیتونه او مناسبات ډیر پیچلی نه دی، خو د سیاسی سازمانونو مناسبات یو بل سره پیچلی دی. زیاتره وخت منطقوی اقتصادی جوړښتونه ، سیاسی مناطق او د هغو ممکنه مرکزونه او د رهبری مقر په لاندی ډول ترسترګو کیږی:

1 - جدول: سیمی او پیشنهاد شوی مقر(مرکزونه)

| د سیمی نوم | وړاندیز شوی مقر |
|---|---|
| شمالي امریکا (د نفتا منطقه) | کاناډا یا د امریکی متحده ایالات |
| مرکزی امریکا (د کارائیب منطقه) | نیکا، اګرا یا کیوبا |
| جنوبي امریکا | بولویا، کولمبیا یا ارجنتاین |
| ختیځه آسیا (د وچي او سمندر په ګډون) | جنوبی کوریا |
| دآسیا جنوب(سارک) | بنګله دیش یا سریلانکا |
| د آسیا جنوب لویدیځ (د ECO حوزه او خلیج) | ایران |
| د آرام سمندر ټاپوګان او آسیايي اوقیانوس | اندونیزیا |
| د افریقا جنوب ختیځ | کینیا یا موزمبیق |
| د افریقا لویدیځ | کامرون یا ګابون |
| عربی منطقه | مصر یا سودان |
| اروپا | سویس |
| روسیه او د اسلاو منطقه | اوکراین یا سپینه روسیه |
| جنوب ختیځ | مالیزیا |

## د منطقوي اقتصاد دري ټاکلی او مهمي ساحي

کله چي اقتصاد پوهان، پالیسي جوړونکی او متصدیان دې ته ځیرشول چي ټاکلی تولیدات باید ټاکلو منطقوکي وشی اودمفاد داعظمی کیدو لپاره، په یوه معین ځای کي دتصدیو په استقرار ټینګار وشو او په محل کي دتولید تمام شد لګښت او دلیږداو ترانسپورت مصارف مقایسه شول او د ویبر مطلوب محل ۱(weber optimum location) تجربه مثبته ثابته شوه، نو د منطقوی اقتصاد ساحات د ټول عمومی اقتصاد له لویي ساحي څخه جلا شول چي هغه دادي:

## 1 . د کورنیو او صنایعو، دوارو لپاره منطقوی تحلیل

په منطقوی تحلیل کی کورنی مصرف کوونکی ده او تصدی تولید ترسره کوي. دا چي ددي دوارو په پام کي نیولو سره به مفاد څنګه اعظمی شي، همدا پوښتنه د منطقوی اقتصاد اساسی نقطه ده. دي ته د location analysis نوم ورکړل شو.

## 2 . د ویبر مطلوب محل

ویبر په ۱۹۰۹ م. کال کي تصدی ، په فضا کی د یوي نقطی په توګه فرض کړه. تصدی په خپله د یوه تولیدی واحد په توګه یو ساده جوړښت دی چي د Micro economics د اصولو له مخی خپله کټه زیاتوی. دګټي زیاتول د تصدی لپاره یو ډیر معقول دلیل دي. د همدي دلیل له مخی تصدی یو داسي ځای غوره کوي چي د خامو او کار تمامو توکو لیږد ورته ارزانه تمام شي، د کار ماهر ځواک موجود وی، د مارکیټ ستونزه نه وی او کافی انرژیکی مواد په لاس کي وي.

پورتنی دوه ټکی یعنی د محل تحلیل او د تصدی استقرار ابتدایي ټکي وو. په منطقوی اقتصاد کی وروسته تر ۱۹۵۰ م. کال ډیر زیات پرمختګ راغی او د منطقو د حدودو د ټاکلو لپاره اساسي نظریات ورکړل شول.

## د منطقوی اقتصاد ډیزاین او د تصدیو استقرار

په یوه ټاکلي فضا کي د اقتصادی فعالیتځای (فابریکي او کارخانو)تمرکز او استقرار دمفاد د اعظمی کولو په موخه وي. ددي عمومي حکم له مخي به ډیر غوره محل( ځای، مکان) هغه وي چي په ممکنه طریقه سره دتصدی ګټه په اعظمی نقطه کي او لګښتونه يي اصغری نقطه کي وي، خو په عمل کي داستقرار ددي ډول نقطي موندل ساده کارنه دی، نو دي موخي ته د رسیدلو لپاره باید ډیر اړخونه وکتل شي. دغو هڅو له ۱۹۰۱ کال څخه دوام درلود اوپه ۱۹۵۰ م. کال کي دتصدیو او اقتصادی فعالیتونو داستقرار دمحل دتخصیص دجغرافیایي حل لپاره تحلیلي چوکاټ ومنل شو. وروسته له همدي کال څخه هم دمنطقوی اقتصاد او هم د ښاري اقتصاد هڅي د منطقوی اقتصاد، ډیزاین او دتصدیو استقرار ته اړم شوی. په شروع کي دمنطقو ی اقتصاد ډیرساحات دعمومي اقتصاد پربنسټ جوړ شول. چي په دغه منطقه کي محل او جغرافیا يي فضائه تحلیل کیده. په پیل کي دحمل او نقل داقتصادیتوب لپاره خطی موډلونو څخه کار اخیستل کیده، خونسبی مزیت او نور سره تړلي عوامل او فکتورونه نه سنجول کیدل، خو اوسني وخت کي دترانسپورت دلګښت ترڅنګ طبیعی منابع، ښاری پرابلم او مهارتونه هم په پام کي نیول کیږي.

## د منطقوی اقتصاد دري پوښتني

---

weber په دی ټینګار درلود چي باید د منطقی لپاره یو موډل په پام کی ونیول شي په دغه موډل کی باید تصدی ته د خامو توکو د لیږد او له تصدی څخه مارکیټ ته د کار تمامو توکو د لیږد مصارف په اقل حد کي وي. همدی ته د ویبر موډل او weber optimum location نوم ورکړل شو.

په ټول اقتصاد کې مونږ دي پوښتنو ته ځواب وايوچي، چي څه توليد کړو، څومره يي توليد کړو، څرنګه يي توليد کړو او چاته يي توليدکړو؟ منطقوی اقتصاد چي دعمومي اقتصاد په رڼا کي څيړل کيږي، درېو ځانګړو پوښتنوته بايد ځواب ووايي:

۱- څه اوچيرته بايد توليدشي؟
۲- ولی؟
۳- پايله به يې څه وي؟

دېورتنيو پوښتنو په ځواب کولو سره به داقتصادي سيستمونو په فضايي بُعد او دفضايي بُعد په خصوصياتو وپوهيږو.يعنی مونږ به په فضا يي بُعد کي هغه عوامل ډيرښه په کار واچوو چي اقتصادی فعاليت وربانديې ترسره کيږي او دمنطقه يي اقتصاد په اغيز منتوب سره به دټول اقتصاد د ودې سره مرسته وشي.

په پورتنيو پوښتنو کي بايد د(څه ؟) ځواب داوي چي په ټولو اقتصادي فعاليتونو بايد څارنه او نظارت وشي. دغو اقتصادی فعاليتونو کي هم توليدی تصدی(فابريکي، کروندي، دڅارويو روزني فارمونه، کانونه، دکبانو روزنه، حجاری او نجاری او نور) او هم خدمات ( لکه سوداګري، روغتيا، ښوونه اوروزنه، مخابرات اونور) شامل وي چي هم دولتی او هم خصوصي سکتور پکي راځی، دهمدې لومړۍ پوښتني( چيرته ؟) بايد ځواب داسي منطقی او معقول وی، چي داقتصادي فعاليتونو ځای وربانديې وښودلای شو.

د دوهمي او درېيمي پوښتني ځوابونه په حقيقت کي د اقتصاد يوه په خپل تحليل، تجربه او پوهي پورې اړه لري چي داقتصاد له آفاقی او عمومي پوهي څخه يي ځوابو لای شي.دپورتنيو درېو پوښتنو څخه ښکاري چي منطقوی اقتصاد، په اوسنی پرمحتللی او سنجول شوی بڼه باندې داقتصاد دعلم يوه نوې څانګه ده او په دې ورستيو کي يي درامينځته کيدو دليل دادې چي پخوا اقتصاد پوهانو داقتصاد دعلم په پوښتنو( څه؟. څومره ؟ څنګه؟ ...) کي د (چيرته ؟) پوښتنه نه وه ور اضافه کړی او نه يي نتيجه مطرح کړې وه. يعنی داقتصاي فعاليتونو فضايي بُعديي، اقتصادی تحليلونو کي نه وشامل کړی. حال داچي اوس دمنطقوی اقتصاد په رامنځته کيدوسره دغي پوښتني هم ځواب وموند او ډيره ښه حل شوه.

سره له دې چي داقتصادی جغرافيي علم څه ناڅه دسيمو اقتصادی خصوصيات، اقتصادی پوتانسيل، دسرچينو اندازه او موقعيت ، مساعد اقليم اونور مسايل توضيح کول او اقتصاد پوهانو ته يي بيلابيلو جغرافيا يي سيمو کي داقتصادی امکاناتو او ريزرفونو ښه معلومات ورکول،خو داقتصادی فعاليتونو په اسقرار او جغرافيايي سيمو کي يي دانسانی چلند لپاره ځواب نه ورکاو. دښارونو پلان جوړونکو يواځی داسکان، لارو، ډګرونو، عامه خدماتی سيمو، تجارتی اوصنعتی مراکزو سيمو په ښودلو کي کار کاو، خوپه جغرافيايی ساحه يافضايي بُعد کي يي اقتصادی فعاليت کي تخصص نه درلود، دپورتنيو نيمګړتياوو په درک سره داقتصادي جغرافيي، چاپيريال پوهني (Enviornment Science) ښاري پلان جوړونکو او دسيموپيژندني او دطبيعي منابعو داقتصاد (Natural Resources Economics) پوهانولاسونه سره ورکړل او دمنطقوی اقتصاد بنسټ يې کينود چي د Raleigh Barlewe او Losch،Chirstaller, Predoht, Weber, Plaunder, Hotelling نومونه ديادوني وړ دي.بايد هيره نشي چي ښاری اقتصاد او منطقوی اقتصاد سره جلادي او يوبل څخه بيل مسايل څيړی. خو د دواړو ترمنځ ورته والی او ګډه همکاری شته. دبيلګي په توګه د يوه ښار درامنځته کيدل په پيل کي ديوی کوچنی منطقي په توګه وي. همداسي هم دځو صنعتی سيمويوځای کيدل او دځو کوچنيو ښارونو يوځای کيدل يوه لويه منطقه جوړوي. ځيني اساسات هم شته مثلاً دتوريزم دمنطقي معرفي کول.

دتوريزم ساحه ممکن ښاري نه وي. بلکي يابه تاريخي ارزښت لری، يابه طبيعی جاذبه لری، يابه داوبو غاړې وی او داسي نور، خو داقتصادی عايد او اقتصادي منطقي په توګه به ارزښت ولری، يعنی دښاری مطالعي اوتحليل په بحث کي به شامله نه وی، مګر داقتصادي مناطقو بحث کي به ډيره مهمه وي. ممکن ښاري مطالعاتو کي دځوپوړيزو ودانيو ډيزاين ،لمر اوسيوری

اوداسي نور مسايل شامل وی، خو دمنطقوی اقتصاد په تحلیل کې دې ډول ټکیوته اهمیت نه ورکول کیږي. نوڅکه دښاري او منطقوی اقتصاد ځانګي دنژدیوالی او ورته والي سره سره توپیرونه هم لري.

## د منطقو ډولونه

الف) مرکزی یا هسته يي منطقي: هغه ټاکلي منطقي چي د تجارتی او اقتصادی فعالیتونو مهمه او ډیره برخه هلته متمرکزه وي. په دغه ډول منطقو کی دننه د مراتبو سلسله موجوده وي، لويو تصديو او فعاليتخايونو سره نوري فرعی شبكي او كوچنی تصدی تړلي وي او تجارتی او اقتصادي روابط د مراتبو د سلسلي له مخی پر مخ روان وي. ځینی وخت په خپله مرکزی منطقه کي نوري اقتصادی منطقی فعالیت کوي. په دغه ډول منطقو کی د اقتصادی او تجاری مرکزونو شاوخوا د اوسیدو سیمی (مسکوني ساحات) هم وي چی د مسکوني او تجاری مراکزو ترمنځ متقابل ټینګ روابط موجود وی چی اوسنی وخت کی ورته د MSA یا Metropolitan Statistical Area نوم ورکړل شوی دی.

ب) سره ورته homogeneous منطقي: د فعالیتونو، اقلیمي ځانګړتیا د او کلتوری بني له پلوه سره يو شانته سيمي دي. دغه ډول مناطق په ډیرو هیوادونو کی لیدل کیږی. دغه ډول منطقی مشابه اقتصادی فعالیتونه لري لکه په افغانستان کي مرکزی ولایتونه چي ډیر سره ورته دي، په شمال کی څو ولایتونه چی د خپلو تولیداتو، جامو، خوراک او نورو له پلوه سره ورته دی. دبیلګي په توګه د ختیکیو د تولید منطقه. ممکن ددي منطقو حدود ډیر څرګند نه وی ښودل شوی.

ج) اداري منطقي: دغه ډول سیمي د مديريتي موخو لپاره دي. دغو سیمو حدود ډیر څرګند ښودل شوی وي. ددغه ډول سیمو اهمیت ددولت د پالیسیو د جوړولو او تطبيق له مخي دی.

د) ضعيفي منطقي : د منطقوی اقتصاد ډیزاین کوونکی او اقتصادی پالیسی جوړوونکی زیاتره هڅه کوي چي لومړی ضعیفه منطقه وپیژنی او دلته داقتصادی فعالیت داستقرار څخه ځان وساتی. په ضعیفه منطقه کي یویا څو ټکی نه وي بلکی ډیر عوامل پکی شته، نو ځکه پيژندنه او دهغي په نښه کول ستونزمن کار وي. په دی تحلیل کي هغه پخوانی تصدی چي اوس ناکامه پيژندل شوی، هم ضعیفه منطقه کي راځی او باید ورڅخه صرف نظر وشی. داځکه چي دوی نور په موډرن اقتصاد کي خپل رول نشي لوبولای. دبیلګي په توګه له نن څخه څلویښت کاله مخکي دمسي دیګونو اومسی لوښو محل میوند واټ او دزاړه ښارتخته پل اوریکاخانی ته نژدی محل کي و. خو نن ورځ مسی لوښي مارکیټ نه لري. دلته دمارکیټ، عصری تکنالوژی، روغتیا، دخلکو روحی مطالعه اودې ته ورته ټکی مطالعه کیږي،نو په لنډیز سره ویلای شو چي منطقوی اقتصاد اوسني وخت کي ديوې علمی ځانګي حیثیت غوره کړی چي د دري ډوله منطقو په توپیر کولو سره داقتصادی فعالیت دمحل په استقرار فکر کوي. دوی مرکزی، مشابه او ضعیفه منطقي تفکيک کوي. په مرکزی منطقه کي دبین المنطقوی متقابله تاثیراتو ترڅنګ له عمده اولویو مرکزونو سره داقتصادی فعالیت دجریان څرنګوالی په پام کي نیول کیږي. خومشابه مناطق دسره ورته والی له مخي جوړیږي. اداري منطقي صرف دسیاسی تصامیمو او مدیریت، پلان او اداري چارولة مخي اهمیت لري چي ځیني وخت موقتي وي.

د ځلورمی برخی پای

نور بیا

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!